# د نېکمرغه لوی اختر
# د را رسېدو په مناسبت
# د عالیقدر امیرالمؤمنین
# شیخ القران و الحدیث مولوي
# هبة الله اخندزاده صاحب حفظه الله تعالی

# د مبارکی پیغام

۱۴۴۷ هـ ق | ۲۰۲۶ میلادي | ۱۴۰۵ هـ ل

بسم الله الرحمن الرحيم

اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ وَلِلَّهِ الْحَمْدُ.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلاَ مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُّضْلِلْ فَلاَ هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ. اما بعد: فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ - قُلْ إِنَّ صَلاَتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ [سورة الأنعام: ١٦٢]

ترجمه: ووايه(اى محمده!) دوى، ته بېشكه لمونځ زما او قرباني زما او(طاعتونه د) ژوندون زما او مرگ زما(پر صالح عمل) خاص الله لره دي چې رب(پالونكى) د ټولو عالميانو(د جهان) دى. [كابلى تفسير]

و ايضا قال اللّٰه تبارک وتعالى - وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ .... الآية. [سورة البقرة: ١٩٦]

ترجمه: او پوره ادا كړئ حج او عمره خاص الله جل جلاله لره. [كابلى تفسير]

و ايضا قال اللّٰه تبارک و تعالى: فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ. [الكوثر اية ٢]

ترجمه: نو خپل پالونكي ته لمونځ وكړه او قرباني وكړه. [كابلى تفسير]

عَن أنس بن مالک رضی الله تعالی عنه قَالَ: ضَحَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ أَقْرَنَيْنِ ذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ وَسَمَّى وَكبر قَالَ: رَأَيْتُه واضعا قَدَمَهُ عَلَى صِفَاحِهِمَا وَيَقُولُ: «بِسْمِ اللَّهِ وَاللَّهُ أكبر» متفق علیه. [مشکاة المصابیح ۱-۴۵۷]

ترجمه: له حضرت انس رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی، ده ویلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوو ښکرونو والا پسونو(چې د هغو ښکرونه اوږده وو یا دا چې ښکرونه یې مات نه وو) او کمر(برگ یعنی د تور او سپین رنگ وو) قرباني وکړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم په بسم الله، الله اکبر ویلو سره په خپل لاس مبارک سره هغه ذبح کړل، حضرت انس رضی الله عنه فرمایي چې ما ولیدل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه په اړخ یا په غاړه باندې پښه مبارکه ایښې وه او بسم الله والله اکبر یې ویل.

خلاصه داچې رسول الله صلی الله علیه وسلم په دوو برگو او ښکرورو پسونو سره قرباني وکړه، هغه یې په خپل لاس ذبح کړل، بسم الله او تکبیر یې وایه او خپله پښه یې د هغو په اړخو ایښې وه.

په بل حديث شريف کې راغلي دي:

عَـنْ عَائِشَـةَ أَنَّ رَسُـولَ اللَّه -صلى الله عليـه وسـلم- قَـالَ « مَـا عَمِـلَ آدَمِـىٌّ مِـنْ عَمَـلٍ يَـوْمَ النَّحْـرِ أَحَـبَّ إِلَى اللَّه مِـنْ إِهْـرَاقِ الـدَّمِ إِنَّهَـا لَتَـأْتِى يَـوْمَ الْقِيَامَـةِ بِقُرُونِهَـا وَأَشْـعَارِهَا وَأَظْلاَفِهَـا وَإِنَّ الـدَّمَ لَيَقَـعُ مِـنَ اللَّه بِمَـكَانٍ قَبْـلَ أَنْ يَقَـعَ مِـنَ الأَرْضِ فَطِيبُـوا بِهَـا نَفْسًـا» [مشكوة جلد ١ ، ص ١٢٨]

ترجمـه: د حضرت عائشـه رضي الله تعالـی عنهـا څخـه روايـت دی: چې رسـول الله صلـی الله عليـه وسـلم وفرمايـل: د ابـن ادم د نحـر(د قربانـۍ کولـو د ورځـې) داسـې هېـڅ عمـل نشـته چـې د الله جـل جلالـه پـه نـزد د وينـې بهولو(قربـاني) کولـو څخـه زيـات محبـوب وي، او(د قربانـۍ) هغـه ذبح شـوی حيوان بـه د قيامت پـه ورځ د خپلو ښـکرونو، وېښـتانو نوکونو(ښـنگريو) سره راشي او د قربانـۍ وينـې مخکـې لـه دې څخـه چـې پـر ځمکـه توېـې شي(يعنـی د ذبـح کولـو د ارادې پـه وخـت) پـه الهـي دربـار کـي قبلېـږي نـو تاسـو د دې پـه وجه(يعنـی قربـاني کولـو سره) خپـل نفـس خوشـحاله کـړئ.

## د افغانستان مؤمنو او مجاهدو خلکو او د دنیا ټولو مسلمانانو ته!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

تاسـې ټولـو تـه د هـر څـه لـه مخـه د لـوی اختر مبارکـي وایـم، الله تعالـی مـو عبـادات، قربانـۍ، حجونـه، خیراتونه(صدقـات) او نـور نېـک اعمال قبـول کړه.

## محترمو افغانانو ورونو!

د الله‌تعالـی د حمـد او شـکر ځـای دی چـې لـوی اختر پـه داسـې حـال کـې لمانځـو چـې د شرعـي نظام تـر سـیوري لانـدې آرام ژونـد مـو په برخـه دی.

د انسـانانو لـه ژونـد څخـه اصلي مقصـد د الله جـل جلالـه بندګـي کـول، د الله تعالـی پـه عبـادت کـې کوښـښ کـول، د دیـن پـه عـملي کولـو کـې زحمـت ایسـتل او د شرعـي احکامـو پـه کلکـه پیـروي او اتبـاع کـول او د الله جـل جلالـه پـه دیـن کـې پـه کاملـه معنـیٰ اوسـېدل دي، بایـد همدې لـوی مقصـد تـه ډېـره توجـه وکـړو؛ ځکـه همـدا د نېکبختـۍ لاره ده.

د اسلامـي امـارت پـه حاکمیـت سره د ټولـو اتباعـو شرعـي حقـوق تأمیـن او محفـوظ دي، هیڅـوک پـر چـا ظلـم او تېـری نشي کـولای، د ظلـم مخـه نیـول کېـږي او د مظلـوم د حـق پوښـتنه کېـږي.

د شرعـي محاکمـو پـه فعالیت سره مقدس شریعت عـملي شـوی دی، دغـه راز د امربالمعـروف او نهـی عـن المنکـر لویـه فریضـه عـملا تـرسره کېـږي. پـه

دې برخه کې د شرعي اصولو سره سم د ټولنې د اصلاح کوښښ روان دی.

خو بیا هم علماء کرام، د امربالمعروف او نهی عن المنکر او ارشاد او دعوت مسئولین دې په خلکو کې د ضروري مسائلو په ښوونه، دعوت او رهنمایي کې ډېر کوښښ وکړي، خصوصا د لمونځونو او مؤمن بهِ شیانو په اړه دې خلک پوه او ډېر ترغیب کړي.

اسلامي امارت د یتیمانو، کونډو، معلولینو او مسکینانو د حقوقو تأمین او مرستې ته ژمنتیا لري، دغه راز په شتمنو افغانانو هم غږ کوي چې یاد خلک هېر نه کړي، د هغوی پالنې او مرستې ته پوره توجه وکړي.

اسلامي امارت د ټولې نړۍ په ځانګړي توګه له اسلامي ملکونو سره د شریعت په اصولو کې سیاسي او اقتصادي اړیکې غواړي او په دې برخه کې یې خپل مکلفیت ادا کړی دی.

د اسلامي امارت مسئولینو څخه مې غوښتنه دا ده چې په خپل مسئولیت کې د الله جل جلاله اوامرو او نواهیو ته پوره توجه وکړي، د خلکو د خدمت، امنیت او هوساینې لپاره د شریعت په رڼا کې خپل مکلفیتونه په پوره توګه ادا کړي، د خلکو د حاجتونو پر مخ دروازې بندې نه کړي، کارونه یې په ښه او عاجله طریقه سره اجراء کړي.

همدا ډول په خلکو باندې له ظلم څخه ځان وساتئ، ځکه په دنیا کې چې هرچا ظلم کړی، که هرڅومره طاقتور وي، هغوی الله تعالی ذلیله او له شکست سره مخ کړي.

امنيتي مسؤلينو ته مې هدايت دا دی چې په ځانګړي ډول د اختر په ورځو کې د خپلو خلکو هوساينې، خدمت او خونديتوب ته پوره پاملرنه وکړئ، د دوی د خوشحالۍ او ارامۍ لپاره ټول لازم اقدامات ترسره کړئ.

همدارنګه د راستنيدونکو مهاجرينو په اړه دې ټول اړوند مسئولين ډېره توجه وکړي چې د هغوی لپاره د ځمکو وېش، د انتقالاتو او ځای پرځای کولو په برخه کې لا ډېر سهولتونه برابر شي.

## محترمو افغانانو ورونو!

زموږ او ستاسو مشترک مسئوليت دی چې د خپل شرعي نظام ساتنه او پالنه به کوو؛ ځکه دا د ډېرو شهيدانو د مقدسو وينو او د مجاهدينو او مخلصو مسلمانانو په خورا ډېرو ستړياوو او قربانيو سره راغلی، راځئ چې د ساتنې لپاره يې هم ټول په اتفاق او اخلاص سره لا ډېره ستړيا وګالو او قرباني ورکړو او د ورونو په شان د يو او بل ترڅنګ دريدو ته دوام ورکړو، ترڅو د دښمنانو بدې ارادې دفع کړو، د امنيت، هوسايۍ، ابادۍ او په عموم کې د شرعي نظام قدر وکړو او د لا ښې تقويې او بقا لپاره يې لاسونه سره ورکړو او په راغلي شرعي نظام باندې بشپړ استقامت وکړو.

حرمینو شریفینو ته له افغانستان او نړۍ څخه ورغلیو ټولو حجاجو کرامو څخه هیله کوم چې د اسلامي امت او بالخصوص په اسلامي دنیا کې د مظلومو مسلمانانو ورونو لپاره دعاګانې وکړي، تر څو یې الله تعالی د اسلام او مسلمانانو پر دښمنانو غالب او له دنیوي او اخروي سعادت او سرلوړۍ څخه برخمن کړي.

له ټولو سرمایه دارو افغانانو او همدا راز د اسلامي امارت له مسئولینو څخه غواړم چې د اختر په مبارکو شپو ورځو کې د راستنېدونکو مهاجرینو، غریبو او بیچاره کورنیو حال واخلي او هغوی د اختر په خوشحالۍ کې له ځان سره شریک کړي.

په پای کې یو ځل بیا ټولو مؤمنو او شریفو خلکو ته د لوی اختر مبارکي وایم. الله تعالی دې وکړي چې همېشه خپل اخترونه همداسې په امن او خوشحالۍ کې ولمانځئ.

والسلام علیکم و رحمة الله و برکاته

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث مولوي هبة الله اخندزاده

۱۴۴۷/۱۲/۷ هـ ق ـ ۱۴۰۵/۳/۳هـ ش ـ ۲۰۲۶/۵/۲۴

د افغانستان اسلامي امارت
د رياست الوزراء مقام د دفتر لوی رياست
د عامه او ستراتيژيکو اړيکو معاونيت
مطبوعاتو رياست

د انسانانو له ژوند څخه اصلي مقصد د الله جل جلاله بندګي کول، د الله تعالی په عبادت کښې کوښښ کول، د دين په عملي کولو کښې زحمت ايستل او د شرعي احکامو په کلکه پيروي او اتباع کول او د الله جل جلاله په دين کې په کامله معنیٰ اوسېدل دي، بايد همدې لوی مقصد ته ډېره توجه وکړو؛ ځکه همدا د نېکبختۍ لاره ده.